بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

د مولانا سعید افغاني د سولې او تفاهم،نشراتي ارګان

www.said-afghani.org

آزاده، تولنیزه ،علمي ، فرهنګي و نشراتي ارګان




Dr.Said Afghani


د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# عبدالحفیظ « ملیار - ساپی »





د نشرنیټه : 21 اپریل 2024 میلادی


# د ځواني خیال!

سپرلیه ښکلیه راشه ، د بوستان خبر دې واخله
دا مو خبر دې واخله ، دبولان خبر دی واخله
تاو را تاو شه شمالی نه ، ارغوان خبر دې واخله
د ملالې قبر ښکل کړه، ایوب خان خبر دی واخله
د الفت قبر ته لاړ شه، د لغمان خبر دې واخله
ننګرهار د نارنج ګله د چانان خبر دې واخله
قبر يې ونازو په عطرو ،امان خان خبر دې واخله
د مست سپند څپې يې ګوره ، کنړ جان خبر دی واخله
سره لعلونه يې موسکی دي ،بدخشان خبر دې واخله
د غاتول قالينې فرش کړه ،د بامیان خبر دی واخله
دنازو روح کړه خوشاله، میرویس خان خبر دې واخله
پکتیا غرونه رنګین کړه ، د واخان خبر دې واخله
د هرات، بلخ ، کاپیسا او نو رستان خبر دی واخله
لر او بر پښتون ته وايه ، دګریوان خبر دې واخله
د حمزه ،غني غزل شه ، خوشالخان خبر دې واخله
ای زما د ځواني خیاله ، کابل جان خبر دې واخله
د« ملیار » زخمي غزله ، د ارمان خبر دې واخله
سپرلیه ښکلیه راشه ، د بوستان خبر دې واخله

***

عبدالحفیظ « ملیار »


www.said-afghani.org - بازګشت به صفحه اصلی